محمد هارون خپل شعشعی

۳۱ می ۲۰۱۲

« اوسپنیز » که « اوسپنین »؟

« اوسپنه » د پښتو لرغونی ټکی دئ، چي داویستا/ اوستا له هوسفنه(Haosafna) څخه راوتلئ ښکاري؛ څکه چي په اویستا کي بې (به یې) له اوسپني څخه جوړ سوي شي ته هوسفینه (Haosafnaena) ویل . [۱] دا ټکی د پښتو په لرغونو متنو کي د« اوربل »، « اوربنت »، « اوریځ »، « اوربدل »، « اوربشي »، « اولجه » او داسي نورو ټکو غوندي، له الف سره لیکل سوئ دئ؛ خو نن سبا یي زموږ ځیني ژبپوهان، لیکوال، شاعران او ژورنالیستان بې الفه کاږي . « وسپنه » د پښتو په ونېڅی لهجه کي « اوسپنده » او د مَقُر په سیمه کي «اورسپنه» ویله کیږي . [۲]

د خوشال خان خټک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق) په کُلیاتو کي څو ځایه « اوسپنه » راغلي ده؛ مثلاً په «دستار نامه» کې(کي یې) داسي راوړي دي : «اوسپنه پیدا ده چه توره شي . که د اُستاد تر لاسه ورغله، توره ځني سازه شوه . . . » [۳] د متفرقاتو په یوه بیت کي د جمعي اضافي حالت (genitive) داسي راغلئ دئ :

که د اوسپنو په کوټ کي ځان خوندي کړې!

عزرائیل به دي خبر واخلي دننه [۴]

رحمان بابا هم د خپل دیوان په یوه بیت کي د« اوسپني » ټکی داسي راوړئ دئ :

نصیحت د ناصحانو اثر نه کا

د سرې اوسپني خوشي ټکول دي [۵]

په دې وروستیبو کلو کي د اوسپني په پای کي د « یز » شاوندي یا وروستاړي (suffix) په زیاتولو سره د «اوسپنیز» صفت جوړ کړئ دئ؛ اودي بهیر اوس دونه زور اخیستئ دئ، چي د ژبي و طبیعي رنګارنګی او ښکلا تې(ته یې) خورا لوی تاوان پیښ کړئ دئ . په دې ناوړه کار کي هم د « سوچه پالني » لاس پروت دئ؛ په دې چي د عربي، پاړسي او اوروپایي ژبو هر اشنا او مأنوس ټکی د پردي توب په ګونا له پښتو ژبي ایستل کیږي؛ او پر ځای یې مروړلي، بې خونده، نا اشنا او ترجمه سوي ټکي درول کیږي . کله کله خو داسي لا هم ښکاري، چي کي د یوې خودساخته او لغوړني پښتو کلیمي د وروستی برخي دپاره نور څه و نه موندل، بیا نو د دېګ د

مالګي يا مسالي غوندي د« يز » شاوندی ورسره ملګرى کيږي(کوي)، چي په دې توګه د چا خبره «پښتو رنګ» واخلي . شک نسته، چي د « يز » په کومک د يو و نيم صفتو جوړول بده خبره نه ده؛ خو دونه بايد زيات نسي، چي زموږ وخوږ او سپېڅلي ژبې ته جعلي، يکنواخته او بې خونده جوله ورکي؛ او د خلګو خوا ځني وګرځي . انګرېزان وايي : (too much of everything is bad)، عربان وايي : « خيرالامور اوسطها»، پاړسي وانان وايي : « هر چه از حد بګذرد رسوا شود »، کنداريان وايي : «چي ډېرى سي مورداري/ مرداري سي .» دا خبره تر لمر روښانه ده، لکه څنګه چي د انسان په وجود کي د يوه عنصر يا مادې ډېربنت و ډول ډول ناجوړتيو او پرابلمو ته لار پرانيزي، په ژبه کي هم د جعلي، تکراري او بې خونده ټکو، ترکيبو او عبارتو ډېربنت، د هغي وخوند، ښکلا او جذابيت ته لوى زيان پېښيږي؛ خو د ناپوهى، تعصب او تنګ نظرى په ناروغى اخته کسان به دې ساده او روښانه حقيقت څوک پوه کيږي؟!

خير، دا ؤ زموږ په اوسنى بدخونده رسمي او مطبوعاتي پښتو کي له اسمو(nouns) سره د « يز » شاوندي يا پسوند په کومک د بې شماره توصيفي کليمو يا صفتو (adjectives)د جوړولو داستان . اوس را ځو د خپلي اصلي پوښتني وسپيناوي ته، چي ايا « اوسپنيز » سهي دئ که « اوسپنين »؟

په يوه سرسري او سطحي نظر خو داسي برېښي، چي « اوسپنيز » تر « اوسپنين » ډېر ښه او معقول دئ؛ ځکه تر غوږو مو ډېر اشنا او مأنوس دئ؛ په ورځ کي لس واره لولو يا اروو؛ خو که د پښتو پخواني متون تر نظر تېر کو، ښايي بيا پر دې خبره ټينګ و نه درېږو . پير روښان په خپل مشهور ديني- عرفاني اثر « خير البيان » کي له اوسپني څخه جوړ سوئ شى (څيز) د اوسْپَرين/ اُسْپَرين (ūsparín/usparín) په نامه ياد کړئ دئ . د «اوسپرين/ اُسپرين » مذکر صفت د « خيرالبيان » په (۶۷ - الف) مخ کي داسي راغلئ دئ :

« . . .که اُسپرين يا سرولين يا دا هسي نور کالي يا تبغ پليت شي . »[۶]

د پښتوادب فاضل او کامل استاد - ارواښاد علامه عبدالشکور رشاد (۱۳۰۰ ش/ ۱۹۲۱ع - ۱۳۸۳ ش/ ۲۰۰۴ ع) د «خيرالبيان» په لغتنامه کي د «اوسپرين/ اُسپرين» د وروستي شاوندي په اړه داسي کښلي دي : « په دغه کلمه کي فشار لرونکى (ín) د نسبت شاوندى (suffix) دئ او د نارينه موصوف له پاره پکاريږي . د مفرد مؤنث له پاره (ə) او د جمعي مؤنث له پاره د کندهار په لهجه کي (i) او د پېښور په لهجه کي (e) ورپسي نښلي .»[۷]

« اوسپرين/ اُسپرين » کليمه د روښاني ادبي - عرفاني مکتب پر ځينو پيروانو سربېره د ځينو نورو معاصرانو په اشعارو کي هم راغلي ده؛ مثلاً د خوشال خان خټک زوى، عبدالقادر خان خټک، په خپل ديوان کي داسي وايي :

د زړه مست لره د زلفو زنځير بويه

په اوسپرين زنځير دا مست ترلى نشي[۸]

په دې خبره مي ښه سر نه خلاصيږي، چي « ر » توري څنګه د پير روښان په « خيرالبيان » کي د « اوسپني » و توصيفي شکل (اُسپرين) ته لار پيدا کړې ده؟ ځکه د« ين » شاوندي په مرسته له اسمو څخه د صفتو په جوړولو کي د « ر » بله نمونه او مثال نه مومو؛ حال دا چي په پښتو ژبه او ادب کي د دې ډول صفت جوړولو ورشو ډېره پراخه ده؛ مثلاً په پښتو کي له پېرېيو پېرېيو راهيسي دبرين (ډبرينه مځکه)، خاورين (خاورين لوښى)، زرين (زرين کالي، زرين ټوکر، زرينه لونګى)، څرمين (څرمين تبکى)، غلمين (غلمينه ډوډى)، اوربشين (اوربشينه ډوډى) او داسي نور صفتونه لرو، چي په وار سره له « ډبره »،« خاوره »، « زر »، « څرمن »، «غنم » او« اوربشه » څخه جوړ سوي دي . مخکي مو د « خيرالبيان » په متن کي وليدل، چي پير روښان، د هغه څه دپاره، چي نن يې موږ مِسينه، مِسين يا مِسي لوښي(copperware) بولو، د سُرْوَلِين (surwal+ín)

یا سُرْوِیْلِین (surwel+ín) ټکی کار کړئ دئ، چي هغه هم د جوړښت او رېښي له پلوه له « ډبرين »، «خاورين »،« زرين »، « څرمين » او داسي نورو سره بشپړ سمون او برابري لري . مالوميږي، چي د پښتو ژبي « ين » شاوندی له پاړسي« ين » سره مشترکه تاريخي ريښه لري؛ ځکه په پارسي کي هم د دغه راز صفتو دپاره « آهنين »، « زرين »، « چرمين »، « گلين »، « سفالين »، « مرمرين »، « زمردين »، « آتشين » او داسي نور صفتونه کاريږي .

له دي استدلال او ادبي شواهدو څخه دا نتيجه تر لاسه کيږي، چي د عامو خلګو په خبرو او محاورو کي د « ين » په موښلولو سره جوړ سوي صفتونه تر هغو توصيفي کليمو ډېره اوږده سابقه او پراخ استعمال لري، چي نن سبا د « يز » شاوندي په مرسته جوړيږي . که چيري زموږ ژبپوهان او لغت جوړونکي د خپلي ژبي په لرغونو متنو، ګرامري جوړښتو او لغوي زېرمي ښه خبر واى، بيا بې(به يي) په پټو سترګو د « اوسپنيز » غوندي ترکيبي صفت و جوړولو ته زړه نه ښه کولای، چي نن زموږ د رسمي او مطبوعاتي ژبي نه بېلېدونکي برخه ده؛ اوپه ورځ کي شل پلا دوري هوري تکراريږي . کله چي له پېړيو پېړيو څخه تر اوسه پوري، نور همجنسه اسمونه لکه : « زر »، « مِس »،« ډبره »، « خاوره »، « مرمر »، « څرمن »، « لرګی » او داسي نور د « ين » وروستاړي په زياتولو سره د « زرين »، « مسين »، « ډبرين »، « خاورين »، « مرمرين »، « څرمين » او داسي نورو په صفتو اړوو، د « اوسپني » د توصيفي ټکي دپاره ولي بايد د بلي قاعدي پيروي وکو؟! که څوک «زرين »، « ډبرين »، « خاورين »، « مرمرين » او داسي نورو ته « زريز »، « ډبريز »، « خاوريز »، «مرمريز » او داسي نور ووايي، ايا به د خندا وړ نوښت او بدعت نه يي(وي)؟! ژبپوهنه، ادبپوهنه، لغتپوهنه، ګرامر او نوري علمي څانګي هيڅ يو د دي کار ملاتړ نه کيي .

لمنليکونه

١ پوهاند عبدالشکور رشاد، « لغتنامه،» خير البيان د بايزيد روښان (کابل : د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، ١٣٥٣) ٣.

٢ رشاد ٣ .

٣ محمد معصوم هوتک، له کندهاره تر اټکه : د پښتو په کلاسيک ادب کي د لوېديځي لهجي څرک (کندهار : علامه رشاد خپرندويه ټولنه، ١٣٨٩) ٩٩ - ١٠٠ .

۴ خوشال خان خټک، د خوشال خان خټک کليات، د عبدالقيوم زاهد مشواني اوډنه، پرتلنه، سمون او وييپانګه (کابل : دانش خپرندويه ټولنه، ١٣٨۴) ۶١١ .

۵ هوتک ١٠٠ .

۶ بايزيد روښان، خيرالبيان، د پوهاند عبدالحي حبيبي له سريزي او نورو ضمايمو سره، عکسي چاپ . (کابل : د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی،١٣٥٣) ۶٧- الف .

٧ رشاد ٣ .

٨ هوتک ١٠٠ .

پای